سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۲۳

# دجال دجال دی

د یوه کلی په ورانـــی، بـل کلـئ نه جـوړیږی

د یوه زړه په ماتیـدو، بل زړګـئ نه رغیږی

د وینـو لـوبه ســمه لـوبه نه ده مـه یی کـوه

بی دسـرو له غـوڅیدوپه بل څه نه ختمیږی

ایمان ګټلو ته به نوری لارې هم وی ګوندی

د بـــی ګنـــاهو په وژلـو ایـمان نه لـوړیږی

دجنت حوری خوخه ستا د کوڅې ډمې نه دی

ته تیـروتلی ئی په تـورو پیسو نه خرڅیږی

د شر کچکول غـاړې نه لری کړه سیاسی فقیره

عـب لکه غـردی د چپنی لانـدی نـه پټـیږی

خومره به ښکار کړی تورولـومو کی ساده کلیوال

کلیوال ډيردي ددامونو په ښکار نه کمیږی

په جوړیدو ده محـکمـه د عدالت نن ـ سبا

دجال دجال دی د عیسی ع په نامـه نه چلیږی

اگست/۲۰/۲۰۱۹

ایجکس ـ تورنتو/ کانادا

**** **** ****

یادونه:

که چیری گران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

دجال دجال دی
kliwal_s_٤٥_dadjaal_dadjaal_dai.pdf